مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۱۲/۰۴

# اغزن رباطونه

څه اوږده، اوږده،مــزلـــــونه دي او زه يم
چې په هر لوري ، جنګونه دي ، او زه يم

په قـــامت زمـــا د عمر، ســـــــر تر پايه
د هجــــــران هـــم ګړنګونه دي، او زه يم

لاروی د سخـــــتولارو يـــم، دي دَور کي
څه اغـــــزني رباطــــونه دي ، او زه يم

د غمـــونو دريابــــونو کي، لاهـــــو يم
د دردونـــو طـــوفـــــانونه دي، او زه يم

چي غلـــط کړم، خپل غمـــونه ميکدې کي
د ســــاقی په لاس جـــامونه دي، او زه يم

نور يي نه شمـــه ســـاتلی، په ګـــوګل کي
انديښني دي ، پـــټ رازونه دي، او زه يم

سوله رانـــغله او مـــــونږ پسی، ړانده شو
ســــر پر ســــر دلـــته دردونه دي،او زه يم



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ